مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۳/۰۲

# حق زور نهدی، بلکې زور حق دی!

هغوی ته حیران یم، چې لا هم د نړیوالو اصولو او قواعدو د ماتېدو په اړه اندېښنې ښکاره کوي . نړیوال نظم، نړیوال اصول، قواعد او قوانین نور نهشته .

دملګرېو ملتونو سازمان د بشري مرستو په يوې کمزورې، بیروکراسيځپلې، فاسدې نادولتي موسسې (NGO) بدل شوی، چې نه نړیوال درناوی لري، نه حیثیت او نه کوم اعتبار.

نړی له اخلاقو، عواطفو، بشري احساس او زړه سوي تشه ده.

دا ښکلي نومونه د کمزورې او ماتې نښې ګڼل کیږي.

ایډیولوژيګانو او عقایدو خپله فیلوسوفیکه خپلواکه مانا له لاسه ورکړې او یوازې د زوررورو د سیاستلوبو لپاره د وسیلو او نیابتي لوبیو کار ترې اخیستل کیږي .

پر نړۍ یوازې زور، پانګه، پوځي اندیوالي او پراختیاغوښتنه واکمنه ده.

د شرافت نښې: وسله، وژونکي تکنولوژي او استخبارات دي.

د کمزوریو هېوادونو هوښیاري دا بللی شي، چې څنګه د یوه زورور ترسیوري لاندې ځان پناه کړي. خپلواکي په مارکېټ کې خرڅلاو ته ایښوول شوې ده.

بشري حقونه او ولسواکي یوازې په یوشمېر هېوادونو کې دننه تر هېوادني نظم پورې راکوشني شوي مفاهیم دي او په نړیوال نظم کې نه مانا لري او نه ارزښت ګڼل کیږي، ځکه نړیوال نظم نور نهشته. د ښځو او ماشومانو حقوق تر ټولو په مسخره مفاهیمو بدل شوي دي، چې ان د هاګ په نړیواله محکمه کې هم نور نهچلیږي.

نړی په یوه بيقانونه ځنګله بدله شوې، چې زورور کمزوري خوري او همدا پخپله د بشریت قانون دی.

د هېګلي فیلوسوفي له مخې دا کیسه زړه ده، خو اسباب او وسایل یې نوي شوي، خونړي او ډېر ویجاړوونکي دي.

نور نو:

**حق زور نهدی، بلکې زور حق دی!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ